عبدالرحمن فرقاني ۲۰۱۰/۰۲/۰۸م

# آیا لوديځ غواړي چی ترکیه د افغانستان کشاله اواره کړي؟

که د ترکیی سیاسي خوزښت ته په نړیوال سیاسي ډګر کی ځیر شو , دا اټکل کولي شو, چه د ترکیی حکومت غواړي خپل سیاسي رول او اهمیت په نننی نړیوال کړکیچن او له ستونزو ډك چاپیریال کی تثبیت کړي , څرنګه چه دعدالت اوپرمختیا د ګوند سیاست په حکومتداري کی داعتدال او توازون غوښتونکی دي ,او سربیره په کورنیو ستونزو ئي دبهرنیو ستونزو اوارول هم د خبرو اترو له لاري غوره وګڼل , د کورنیو ستونزو په اوارول کی د عدالت اوپرمختیا ګوند د رجب طیب اردوګان په مشري وتوانید هغه ستونزي اوري کړي , چی د عدالت اوپرمختیا ګوند د سیاسي خوزښت کړی ئي تنګه کړي وه , هغه ستونزي چی د ترکیه له پیاوړي نظامي موسسی سره له وړاندي لرلي تر دیره حده پوري پورته شوي , او د عدالت اوپرمختیا اسلامي حزب وتوانید, د ترکیی په سیاسي ډګر کی خپلی د سیاسي خوزښت کړی ته وسعت ورکړي , او د هغو تولنیزو کشالو په هکله بري ومومي چی عسکري موسسه ئي په وړاندي خنډ وه .د مثال په توګه د ښځي د حجاب ستونزه .... او دبهرنیو ستونزو په هکله چی د ترکی دولت له اوږدی مودي وسره لاس او ګریوان و, د رجب طیب اردوګان حکومت وتوانید چی عسکري  موسسه د خپل سیاست تابع کړي , اوهغه ستونزه چی د ارمنستان سره  موجوده وه , تر دیره حده اواره کړي  .

په ترکیه کی نظامي موسسه له یوی اوږدی مودي څخه په سیاسي موسسه باندي حاکمه وه ,  او له کومه ځایه چی د عدالت اوپرمختیا ګوند  اود نظامي موسسی تر منځ د حکومتداري په هکله ژور اختلاف و, نو نظامي موسسی زیار کاوه چی دعدالت اوپرمختیا ګوند  د ترکیه د حکومت واړي په لاس کی وانخلي , تر څو دین په سایست کی ورګډ نشي , څرنګه چی د ترکیی نظامي موسسه عقیده لري ,  لدي کبله په لومړي ځل حزب د سیاسي قدرت څخه چی د آزادو انتخاباتو په پایله کی ورته رسیدلي و, ګوښه شو , خو تر کومه ځایه چی د عدالت اوپرمختیا ګوند سیاستمدارانو په مسالمت آمیزه سیاسي تګلاره ټینګار کاوه , خپلی مبارزی ته ادامه ورکړله  , تر څو یو ځل بیا د آزادو انتخاباتو په پایله که حکومت ته ورسیدل , خو د حکومتداري په ترڅ کی ئي د عسکري موسسی پام او رأي هم ځانته تر یو حده واړوله .

څرنګه چی د ترکیی حکومت د خپل پخواني استراتیژیك ملګري له لوري د منځني ختیځ په سیاسي کرکیچ کی له پامه غورځول شوي و,  نو د عدالت اوپرمختیا ګوند د کورنیو ستونزو سره سره بهرنیي سیاست او د ترکیی منزلت ته په نړیوال ډګر کی هم ځیر وا, نولدي ځایه ئي دخپل بهرني سیاست د بریالیتوب لپاره پروفیسور احمد داود اوګلو د بهرنیو چارو وزیر وټاکه , او اوګلو وکولي شول چی د ترکیی رول او منزلت  د منځني ختیځ په سیاسي کړکیچ کی وټاکی , اوګلو وتوانید چی د هغی سیاسي کړنلاری څخه د ترکیی د سیاسي موسسی لاره بیله کړي کومه چی د لودیځ څخه د هیره په اساس د ترکیی استرتیژیکو مصلحتونو ته متوجه نه وه , اوګلو ټینګار کاوه چی ترکیه د هغه تاریخي او استراتیژیکي عمق څخه برخورداره ده چی ترکیی ته خپل سیاسي منزلت ورګرځولي شي , د اوګلو له غوښتنه سره سم باید ترکیه په نړیوال سیاسي ډګر کی یو پیاوړي مرکزي هیواد وي , نه دا چی د یوه پله په څیر په نړیوالو سیاسي کشالو کی ورڅخه ګټه پورته شي , اوترکیه نباید یو عادي هیواد وي , ځکه چی د اسلامي نړي او لودیځ په پاي کی پروت دي , څرنګه چی المان په اورپا کی یو مرکزي او پیاوړي هیواد دي , سره لدي چی له افریقا او اسیا اوروسیی څخه په جغرافیا ئي لحاظ دیر لري دي ,  او څرنګه چی ایران اوس مهال په اسیا کی دامریکا په مرسته یو مطرح شوي هیواد دي ,سره لدي چی له اروپا او افریقا څخه لري پروت دي , همدارنګه اوګلو د ترکیی تاریخي بعد ته هم ارزښت قائل دي , کله چي ترکیه د عثمانیانو امپراتوري وه .

داوګلو د سیاسي لیدلوري سره سم باید ترکیه د دی تاریخي او استراتیژیك عمق له درلودلو څخه په نړیوال سیاسي ډګر کی ګټه پورته کړي , او نه یوازي دا چی ځانته امنیت قائم کړي , بلکه باید د نور د امنیت په هکله هم فکر وکړي , او له خپلو ګاونډیو هیوادونو سره خپلی ستونزي اواري کړي , نه دا چی یوازي د اورپا اتحاد ته دننوتو زیار وباسي  .

دترکیی دسیاسي موسسی پروفیسور اوګلو وتوانید, چی د امریکا اوترکیی سړه علاقه بیرته توده کړي , لدي ځایه وه چی اوباما اسلامي نړي ته د خطاب لپاره لومړي اډه ترکیه وټاکله , دحاکم حزب د حکومتداري په لړکی ترکیی په نړیواله کچه دیري ستونزي اواري کړلي , او په بهرنیي سیاست کی ئي د پام وړ پرمختګ وکړ , دایران سره ئي خپل کړکیچ اوار کړ.

خو هغه څه چی ترکیه ئي په نړیوال سیاسي ډګر کی په قوت راڅرګنده کړله , هغه د ترکیی توجه هغو نړیوالو سیاسي کشالو ته و چی ترکیی ته ئي په نړیواله سیمه کی نفوذ ورکړ, د مثال په توګه د فلسطین مساله , ترکیی له خپلو استراتیژیکو اړیکو څخه چی داسرائیل سره ئي درلودي لاس واخیست , او د فلسطین قضیه ئي خپله قضیه وګڼله  , لدي سره سره ئي د افغانستان سیاسي کشاله هم ترپام لاندي ونیوله .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دافغانستان سیاسي کړکیچ نړیوال حیثیت خپل کړي دي , د نړي ګڼ شمیر هیوادونه په افغانستان کی لاسوهنه کوي , که د لودیځ جګړه ایز ماشین د یرغل په لړکی د افغانستان د بي ګناه وګړو په وژلو کی خلاس لاس لري , او هر وخت چی وغواړي د افغانانو کورونو ته پرته له اجازي ورننوځي , او تورسري او کوچنیان وځوروي , دوي شه پوهیږي چی د دوي دښمنان په غرونو کی دي , خو دوي د هیبت او وحشت د چاپیریال له جوړولو څخه خوند اخلي , او بیوزله او بي ګناه خلك ځوروي .

که ایران د افغانستان کلتوري چاپیریال تر خپل ظالم یرغل لاندي نیولي دي , او زموږ افغاني هویت زیانمن وي , او د لودیځ په مرسته ئي د هیواد ټول مهم کلتوري مرکزونه په خپله ولکه کي راوستي دي , مختلفی مطبوعاتي رسني د دی کار لپار بوختي دي , په مستقیمه توګه ایراني کلچر زموږ په ټولنه کی خوروي , او د کلتور سره د دیني مفاهیمو رواجول هم شوني کوي , ځکه چی په افغانستان کی ایرا ن یو ډول ژبني عمق پیدا کړي دي .

که هند غواړي چی د پاکستان په مقابله کی په افغانستان کی رول ولري , او زموږ رواج او دستور تر خپل یرغل لاندي وساتي , ځکه چی هند دهغه مثلث یو ضلع دي چی په افغانستان کی ئي ژوره لاسوهنه کړي او لا تر اوسه ئي کوي , د هندي ډرامو عامیدل په افغاني ټولنه کی خپل اثر ښي , اوهیڅوك هم لدي اثر څخه سترګي نشي پټولي ,.

که پاکستان د سیاسي او کلتوري لاس وهنی اړوند خپلی هلي ځلي کړي دي , او زموږ کلتور د انګریزانو څخه په پاتي شوي کلچر بدرنګه کوي , که روسیه تر اوسه د افغانان د غرور د ماتولو خیال په سرکی پالي , او د افغانستان سیاسي ډګر نه پریږدي , اوپه افغانستان کي ئي خپل ګوداګیان روزلي دي .

او که عربي نړۍ د افغانستان په سیاسي کشاله کی متهمه ده , که .....

خو ترکیه یوازني هیواد دي , چی د افغانستان په سیاسي کشاله کي تورن ندي , او له افغانانو سره هیڅ راز تاریخي زړه بدوالي نلري , آن دا چی د تاریخ په اوږدو کی دواړو هیوادونو ښي اړیکی درلودلي .

یو تعداد سیاسي کتونې پدي نظر دي چی ترکیه کولي شي د افغانستان سیاسي کشالی ته د پاي ټکي کیږدي , او له لودیځ سره همکاري وکړي , تر څو د افغانستان له خړوب څخه د وتلو لاره پیدا کړي , که چیري لودیځ او د نړي هیوادونه ترکیی ته ریښتیني واك ورکړي , ترکیه د خپل تاریخي او اسلامي عمق څخه په ګټه اخیستلو د افغانستان کشاله حل کولي شي , او که چیري د عربي نړۍ هیوادونه هم ورسره مرسته وکړي , دا کتونکي پدي نظر دي چی ترکیه د افغانستان د کشالی د حل امکانات برابرولي شي , که چیري د نړۍ هغه هیوادونه وغواړي چی دا کړکیچ پورته شي چی په افغانستان کی په مستقیمه او یا غیر مستقیمه توګه دخالت لري .

خو یو تعداد نور سیاسي کتونکي پدي نظر دي , چی د استعمار پلورلو هیوادونو اساسي سیاست په نړۍ کی همدا دي چی وضعیت همدارنګه کړکیچن وي , تر څو د کړکیچ په شتون کی دوي خپل اقتصادي , سیاسي , دیني , مذهبي , نظامي ,علمي , لاسته راوړني حاصلي کړي, دمثال په توګه د ځمکی لاندي ثروتنو دغارت سره سره د بي امنه هیوادونو عالمه او مالداره طبقه هم د لودیځ لوري ته په هجرت مجبوریږي , چی بلآخره د لودیځ د پرمختیا لپاره کار کوي , او خپل صلاحیتونه د دوي په خدمت کی ایږدي , په دیني لطاظ هم د لودیځ د مشرتابه ځرګندونی د پام وړ دي , د جورج بوش دیني اصطلاحاتو ( صلیبي جنګ ) استعمال , او د نوبل د جایزه د اخیستلو پرمهال د بارك اوباما په وینا کي پهمدي اصطلاح تینګار بي اساس ندي , په نظامي لحاظ د نړۍ مسلمانان تر خپل هیبت او رعب لاندي ساتي .

او دا هیوادونه نه غواړي چی دا کرکیچن حالت ته دپاي ټکي کیږدي .

له بله اړخه دا هیوادونه اوځني عربي هیوادونه نه غواړي چی ترکیه په نړیواله کچه بیا مطرح شي , او د یو پیاوړي لوي هیواد په څیر سر راپورته کړي , ځکه چی هغه اسلامي او دیني عمق ئي لودیځ ته د منلو وړ ندي چی د نړۍ په مخ ئي یوه پیاوړي امپراتوري جوړه کړي وه.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ